مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۲/۲۶

# په شعر کې تلوسه

تلوسه هغه کشش دی چې لوستونکی یا اورېدونکی د اثر لوستلو یا اورېدلو ته اړ باسي. د تلوسې خبره د کیسې او ناول په باب ډېره کېږي. که په کیسه کې تلوسه نه وي، لوستونکی یې په نیمه کې پرېږدي. د کیسې د کار خبره په پای کې یې وي نو که کیسه لیکوال غواړي چې خلک د ده اصلي خبره (پیغام) ولولي، مجبور دی چې په کیسه کې تلوسې ته پام وکړي.
تلوسه په شعر کې هم وي. نظم خو باید لکه لنډه کیسه وي، باید په لومړیو بیتونو یا جملو باندې لوستونکی خپل کاندي. ځومره چې نظم پر مخ ځي باید هماغومره تلوسه په کې زیاته شي او نظم باید داسې پای ولري چې د لوستونکي زړه ته ولوېږي، فکر کولو ته یې وهڅوي او احساسات یې راوپاروي. د نظم شاعر باید د لنډې کیسې د لیکوالو کمال ولري.
په غزل کې بیا هر بیت تلوسه غواړي ځکه چې هر بیت بشپړه وینا وي. د هندي سبک شاعري به ښایي په همدې وجه ډېر مینه وال ولري چې غښتلې تلوسه په کې وي او د لوستونکي قناعت حاصلولای شي. په هندي سبک کې معمولاً د حسن تعلیل له صنعت څخه ډېر کار اخیستل کېږي. په لومړۍ مسره کې یوه ادعا کېږي، شاعر د یوه شي په باره کې خپله رایه څرګندوي، هغه هم داسې چې لوستونکي ته شک ورپیدا کوي چې دغسې به وي که نه؟ په دویمه مسره کې بیا د خپلې مدعا د ثبوت لپاره یو شاعرانه دلیل وړاندې کوي. دغه دلیل دومره ښکلی او د مدعا له موضوع سره دومره متناسب وي چې لوستونکي ته خوشحالوونکی قناعت ورکوي. د دې سبک بل کمال دا دی چې شاعر معمولاً پټه تشبیه کاروي، د تشبیه توری په کې نه وي، مشبه او مشبه به په لومړي نظر سره ورته نه ښکاري خو چې سړی ورته ځیر شي، د دوی تر منځ ګډ اړخونه موندلای شي. لوستونکی چې د فکر کولو په مټ د شاعر مطلب ته رسېږي، داسې انګېري چې په دې کشف کې ده هم برخه اخیستې ده نو له شعره ډېر خوند اخلي، لکه شعر چې ده پخپله جوړ کړی وي:

پوه شوم پسرلیه د عزت په راز
سر کې د لښکر ځي علم پټه خوله

استاد پسرلی ادعا کوي چې د عزت په راز پوه شوی دی. لوستونکی هم غواړي پوه شي چې دغه راز څه دی؟ دا پوښتنه تلوسه زېږوي. په دویمه مسره کې پسرلي صاحب خپله ادعا ثابته کړي ده «سر کې د لښکر ځي علم پټه خوله» دلته عَلَم او عزتمن سړی سره تشبیه شوي دي خو د تشبیه وجه او د تشبیه توری یې څرګند نه دي. علم هغه بیرغ دی چې د جنګیالیو په سر کتار کې وړل کېږي. علم د عسکري قطعې پت ګټل کېږي، هر عسکر او افسر چې د علم له مخې تېرېږي، ورته سلامي کوي. ښاغلی پسرلی وایي علم ځکه د لښکر په سر کې وي چې خوله یې پټه ده، چې نه غږېږي او شور نه کوي نو که څوک غواړي چې خلک یې عزت وکړي باید ډېر ونه غږېږي.
سید جبلاني جلان وایي:

چې مو سترګې شوې خوږې پر تا نو خیر دی
د سجدې ځای ته کاته کېږي لمانځه کې

دلته شاعر دعوا کوي چې یار ته کتل د خیر کار دی، لوستونکي ته پوښتنه پیدا کېږي چې دا څنګه؟ بیا شاعر ورته دلیل راوړي چې په لمانځه کې خو سړی د سجدې ځای ته ګوري. دغه دلیل لوستونکی قانع کوي او خوند ورکوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مور چې زلمکي وو، يو ملګرى به مو راغى، ښه په ولولو به يې ويل: "خبر يئ که نه؟" ملګرو ته تلوسه پيدا کېده چې څه مهمه خبره به وي؟ ټولو به حيران حيران ورته کتل خو هغه به ويل: "نن يکشنبه ده" زمور ځيني شاعران همدا کار کوي. په لومړۍ مسره کې سړي ته تلوسه پيدا کړي، ښکلى تصوير جوړ کړي، يوه ادعا وکړي، لوستونکى ورته په تمه وي چې دويمه مسره به دغه ښکلا بشپړوي خو ګوري چې داسې نه کېږي.
دغه مسرې وګورئ:

هومره حسن يې په تن باندې انبار دى

چې بې آبه بې حرمته په کې اوسي

د خليل په شانې اور راباندې بل کړئ

د ارمان غوټى به وسپړي ګلونه

خبرې کړې شوندې دې ربړدي

دوه لومړي نيم بيتونه د کلاسيک شاعر علي خان دي، درېم او څلورم يې د اوسني شاعر شمس الدين شمس او وروستى نيم بيتى د لنډۍ دى. تاسې لطفاً يو څو شېبې د ليکنې پاتې برخه مه لولئ، په همدې نيم بيتيو غور وکړئ، ځان سره فکر وکړئ چې شاعر بايد په دويمو نيم بيتيو کې څه درته ووايي؟ له شاعره د څرنګه خبرو تمه لرئ.
اوس بشپړ بيتونه ولولئ او وګورئ چې په کومو بيتونو کې شاعرانو ستاسو تمه درپوره کړې ده؟

هومره حسن يې په تن باندې انبار دى
چې باريکه شوه د يار په دغه بار ملا

چې بې آبه بې حرمته په کې اوسي
هغه ځاى که دې وطن شي مه يې وينه

د خليل په شانې اور راباندې بل کړئ
چې خوشاله د ماما مغروره لور شي

د ارمان غوټى به وسپړي ګلونه
په لېمو کې د باران نښه پيدا شوه

خبرې کړې شوندې دې ربړدي
لکه سور ګل چې د سهار شمال وهينه

اوس نو خپل نظرونه راسره شريک کړئ، وبه ګورو چې کوم شاعر څومره د لوستونکو ذوق ته ځواب ويلاى دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ